# په دوزخیانو کې تر ټولو کم عذاب لرونکی به هغه څوک وي د چا چې به د اور تسمې لرونکې څپلۍ پښو وي، (د ډېرې تودوخې له امله به يې) ماغزه داسې خوټېږي لکه څنګه چې اوسپنيز دېګی خوټېږي، دی به له ځان څخه هېڅوک د سخت عذاب ليدونکی نه ګوري، حال دا چې دی به تر ټولو د لږ عذاب خاوند وي

له نعمان بن بشير رضي الله عنه څخه روايت دی وايي: چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمايلي: «په دوزخيانو کې تر ټولو کم عذاب لرونکی به هغه څوک وي د چا چې به د اور تسمې لرونکې څپلۍ پښو وي، (د ډېرې تودوخې له امله به يې) ماغزه داسې خوټېږي لکه څنګه چې اوسپنيز دېګی خوټېږي، دی به له ځان څخه هېڅوک د سخت عذاب ليدونکی نه ګوري، حال دا چې دی به تر ټولو د لږ عذاب خاوند وي».

[صحيح دی] [متفق علیه دی]

رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمايلي دي چې د قيامت په ورځ به تر ټولو د لږ عذاب خاوند هغه څوک وي چې تسمې لرونکې د اور څپلۍ به يې په پښو وي او له ډېرې تودوخې به يې ماغزه داسې خوټېږي لکه د مسو کټوۍ، او دی به له ځان پرته بل هېڅوک د سخت عذاب والا نه ويني، په داسې حال کې چې دی به تر ټولو د لږ عذاب خاوند وي، دا عذاب د دې لپاره ورکول کېږي چې روح او بدن يې دواړه عذاب وويني.

https://www.sunnah.global/hadeeth/ps/show/4220

النجاة الخيرية
ALNAJAT CHARITY
لجنة الدعوة الإلكترونية
EDC E-Da'wah Committee